# Refugee agencies help and advice

Pushto

November 2008

## آیا تاسو د توکمي ځورونې قرباني یاست؟

که پر تاسو د خپل رنګ، توکم، قوم اویااصلي هیواد له کبله برید شوي وي، ویرول شوي یاست او یامو سپکاوی شوي وي، نو تاسو دتوکمي (نسلي) ځورونې قرباني یاست. توکمي ځورونه یو سخت جنایي جرم دی او کیداي شي ډیري بیلابیلې بڼې ولري، لکه:

| | |
|---|---|
| د ژبې له لارې: | تیرې کوونکې تبصرې ، کلمې، ملنډې یا ویروونې؛ |
| | په بدو نومونو یادول یا ناوړه کلمې ویل؛ |
| ځورونه: | ناوړه او کرغیړن(فاحش) ټیلفونونه او لیکونه؛ |
| | ستاسو د کور مخې یا د لیکونو بکسې ته ګندګې اچول؛ |
| | په پرله پسې ډول شور اوځوږ جوړول؛ |
| بدني تیری: | حقیقي بدني نقصان یا په هغه تهدیدول؛ |
| | ستاسو کور یا شتمنۍ ته، مثلاً د کړکیو او دروازو په ماتولو، تاوان رسول؛ |
| توکمي لیکنې او انځورونه: | لیکل شوي یا انځور شوي ښکنځل؛ |

توکمي ځورونه غیر قانوني ده. هغه کسان چې دا ډول کارونه سرته رسوي، په محکمه کې تر قانوني تعقیب لاندې نیول کیدای شي. هر څوک دا حق لري چې د هغوي یا د هغوی د کور او شتمنۍ په ضد د برید له ویرې پرته ژوند وکړي. مسؤلی اداری لکه پولیس، سیمه ییزې شوراګاني او د ښوونځي مسؤولین دا دنده لري چې تاسو او ستاسو کورنۍ له توکمي ځورونې څخه وساتي او د تیري کوونکو په خلاف مناسب ګامونه اوچت کړي. هغه کسان چې په نورو باندې د هغوی د رنګ، نسل، قومي یا توکمي حیثیت په وجه تیری کوي، هغوی له خپلو کورونو څخه ایستل کیدای شي، جریمه کیدای شي او یا هم په زندان کې اچول کیدای شي.

## تاسو څه کولای شئ ؟

که پر تاسو تیری وشي، نو باید سمدلاسه له پولیسو سره اړیکې ونیسئ. تاسی کولای شئ تر ټولو نیژدې د پولیسو مرکز ته ورشئ او یا هم 999 ټیلیفون شمیرې ته زنګ ووهئ – پولیسو ته ووایئ چې تیری په توکمي بنیاد شوی وو. که چیرې تاسو نه غواړئ چې پیښه په مستقیم ډول په خپله پولیسو ته ووایئ، بیا نو ډیرې ادارې شته چې کولای شي له پولیسو سره په خبروکولو کې ستاسی مرسته وکړي. تاسو کولای شئ له هغوی سره د پیښې په اړه په محرمیت سره خبرې وکړئ او هغوی به ستاسو له رضایته پرته پر هیڅ ډول اقدام لاس پوری نه کړي. پدې ادارو کې ستاسو سیمه ایز یو درید خدمتونه ( One Stop Service)، د توکمي برابرۍ کونسل (Racial Equality Council)، د هیوادوالومشورتي دفتر ( Citizens Advice Bureau)، قانوني مرکز، ټولنیز مرکز یا د کډوالو ډله شامل دي. له هغه ځایه چې توکمي ځورونه یو جرم دی، تاسو باید پدې پیښه



OISC
Community Legal Service
Asylum Support Partnership is a partnership project hosted by the British Refugee Council
British Refugee Council, (commonly called the Refugee Council) is a company limited by guarantee registered in England and Wales, [No 2727514] and a registered charity, [No 1014576].
Registered office: 240-250 Ferndale Road, London SW9 8BB, United Kingdom

د خپل هستوګنځي برابرونکي هم خبرکړئ. د هستوګني اتحاديي او د خيرښيګڼي نورې ادارې چې اړوکسانو ته هستوګنځی برابروي، او همدا رنګه سيمه ايزي شوراګانې دا قانوني مسؤليت لري چې تاسی له توکمي ځوروني وساتي.

تاسو بايد د پيښې د وختونو، نيټو او دا چې دقيقا څه پيښ شول، په اړه ورځنې يادداښتونه له ځانه سره وساتئ. دا به له تاسو سره مرسته وکړي چې په ياد ولرئ پيښه کې کټ مټ څه پيښ شول او څه وخت پيښ شول او هغه کس ته به چې له تاسو سره مرسته کوي وښايي چې ستونزه څومره جدي ده.

## له تاسو سره څه ډول مرسته کيدای شي؟

داسې عملي ګامونه او اقدامات شته چې سيمه ايزه شورا او پوليس دواړه بايد هغه ترسره کړي ترڅو د ځورونې دستونزې په مخنيوی او د توکمي ځورونې د قربانيانو په ملاتړ کې مرسته وکړي. هغوی کولای شي چې:

- د ځوروني په په جرم د تورنو کسانو پيژندنه او د مناسبو قانوني کړنو تر سره کول؛
- د هستوګنځي ځبنتن ته د نوروامنيتي اقداماتو سپارښتنه کول؛
- که چيرې ځورول شوی ماشوم وي، د زده کړې ادارې يا ښوونځي ته خبر ورکول؛
- هغو ادارو ته ستاسو ورپيژندنه چې کولای شي تاسی ته نورملاتړ او مشورې درکړي.

## د قربانی ځخه د ملاتړ (Victim Support) ادارې سره اړيکې نيول

که فکر کوئ د توکمي جرم يا پيښې قرباني ياست، نود قرباني ځخه د ملاتړ ادارې سره، چې د جرمونو د قربانيانو لپاره د خيرښيګڼې ملي ټولنه ده، هم اړيکې نيولای شئ. د قربانی ځخه د ملاتړ اداره، روحي ملاتړ، معلومات او عملي مرسته وړاندې کوي. د اړتيا په صورت کې، هغوی کولای شي له نورو ادارو ، لکه پوليس او د هستوګنې دفترونو، سره ستاسو په نمايندګۍ اړيکې ونيسي. تاسو کولای شئ د قربانی ځخه دملاتړ ادارې سره پدې شميره اړيکې ونيسئ 0845 3030 900. که تاسو په انګليسي ژبه خبرې نشې کولای، د ژباړن بندوبست به درته وکړای شي. تاسو کولای شئ خپله ژبه وښايئ او د ټيلفون شميره مو پريږدئ، يو مشاور به له ژباړن سره يوځای تاسو ته ټيلفون وکړي.

په ياد ولرئ ، چې پورته ياده شوې هره اداره کولای شي تاسو ته مشوره درکړي. له هغوی سره د اړيکو تفصيلات په خپل سيمه ايز کتابتون او د ټيلفون په ډايرکټرۍ کې موندلی شئ.

Asylum Support Partnership consists of:

Migrant Helpline, charity number: 1088631 www.migranthelpline.org.uk
Refugee Action, charity number: 283660 www.refugee-action.org.uk
Refugee Council, charity number: 1014576 www.refugeecouncil.org.uk
Scottish Refugee Council, charity number: SC008639 www.scottishrefugeecouncil.org.uk
Welsh Refugee Council, charity number: 1102449 www.welshrefugeecouncil.org